# بهتر څوک؟

**11-May-2023**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

په 11 مئي کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# بهتر څوک؟

- ـــ د ښو او بدو معيار شريعت دے
- ـــپه بَل باندې د دوېئ خوړلو ثواب په ګناهونو باندې غالب شو
- ـــ ناپاکه زړه الله پاک ته د نزدې کيدو جوګه نه دے
- ـــ د قرض واپس کولو خوندور حکايت
- ـــ د الله پاک نه ويره او اُميد څنګه پکار دے؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

حضرت حَفص بن عبد الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما اِمامُ الْمُحَدِّثِين حضرت اَبُور زُرعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغوئي د وفات نه پس په خوب كښې اوليدو چې هغوئي په وړومبي آسمان فرښتو له د لمونځ جَمع وركوي- ما پوښتنه اوكړه: اے امامه! تاسو ته دا اِعزاز او اِكرام څنګه ميلاؤ شو؟ هغوئي اوفرمائيل: ما په خپل لاس باندې 10 لاكهه حديثونه ليكلي دي او په هر حديث كښې مې د عَنِ النَّبِيِّ نه پس درودِ پاک لوستلے وو او د نبيِّ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے چې كوم مسلمان يو ځل په ما باندې درود شريف اوليږي نو الله پاک په هغه باندې 10 رحمتونه نازلوي- [1]

بیٹھتے اٹھتے جاگتے سوتے
ہو اِلٰہی مرا اشعار درود
شہریارِ رُسُل کی نذر کروں
سب درودوں کی تاجدار درود [2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... تاريخ بغداد ، جلد:10 ، صفحه:334 ملتقطًا-

[2]... ذوقِ نعت ، صفحه:124-

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اَلنِّیَّۃُ الْحَسَنَۃُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّۃَ ښه نیت بنده جنت ته بوځي-[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ! د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ ښه په توجو به بیان اورم ❀ څه چې اورم، د هغې به د یادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عزت معیار تقویٰ ده

صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د فتحِ مکې په ورځ د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل مؤذِن حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته حکم اوکړو چې هغه د کعبې شریفې په چهت اودریږي او اَذان اوکړي، هم دا رنګه حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په حکم باندې عمل اوکړو (حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حبشه سره تعلق لرلو، د هغوئي رنګ مبارک هم سپین نه وو او هغوئي په مکه مکرمه کښې ډیره موده د غلامۍ ژوند هم تیر کړے وو)، ځکه چې هغوئي د کعبې شریفې په چهت باندې اودریدلو او اَذان ئي اوکړو نو د مکې مکرمې بعضې سردارانو د هغوئي په بابله بدې خبرې اوکړې- دلته د مکې بعضې سردارانو بدې خبرې کولې، هلته حضرت جبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي

---

[1] ... مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حدیث:6895-

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې د دوئي د دې خبرو نه خبر کړو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ټول راوبلل او پوښتنه ئې ترې اوکړه: آيا تاسو د بِلال په باره کښې داسې خبرې کړې دي؟ هغوئي ټولو اِقرار اوکړو چې آؤ جي! مونږه دا خبرې کړې دي- په دې موقع باندې د 26 سيپارې، سورۀ حُجُرَات دا آيت مبارک نازل شو، الله پاک فرمائي: (1)

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّ اُنْثٰى وَ جَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآىٕلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿۱۳﴾

(پاره :26 ، سورۀ حجرات:13)

ترجَمهٔ کنزُ العرفان: اے خلقو! مونږه تاسو د يو نارينه او يوې زنانه نه پيدا کړئ او تاسو مو قومونه او قبيلې جوړې کړئ د پاره د دې چې تاسو په خپل مينځ کښې پيژندګلو اوساتئ بے شکه د الله په نز په تاسو کښې زيات عزت والا هغه دے کوم چې په تاسو کښې زيات پرهيزګاره دے بے شکه الله په هر څه باندې پوهيدونکے خبر دے-

علامه قرطبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت مبارک لاندې فرمائي: په دې آيت مبارک کښې الله پاک د مکې والا په نسب باندې د فخر کولو، د زيات مال په غوښتلو او په غريبانانو پسې په ټوقو کولو باندې اورټل او اوئې وئيل چې ټول انسانان د حضرت آدم او حضرت حوا عَلَيْهِمَا السَّلَام اولاد دے، د فضيلت معيار (رنګ، ښائست، نسب او مال نه بلکې) تقوىٰ ده- (2)

دے حُسنِ اَخلاق کی دولت | کر دے عطا اِخلاص کی نعمت
مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا | یاالله! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... تفسيرِ قرطبى، پاره:26 ، سورۀ حجرات، زيرِ آيت:13 ، جز:10 ، جلد:8 ، صفحه:211-

[2]... تفسيرِ قرطبى، پاره:26 ، سورۀ حجرات، زيرِ آيت:13 ، جز:10 ،جلد:8 ، صفحه:211-

## د ښو او بدو معيار شريعت دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې آيت مبارک او د دې د شانِ نزول نه معلومه شوه چې د ښو، بدو، کاميابۍ او ناکامۍ، بهترۍ او بدترۍ معيار رنګ، ښائست، نسل او نسب او مال او دولت وغيره نه بلکې د دې معيار تقویٰ ده، **دا اُصُول هميشه ياد ساتئ!** حُسن او بد صورت عقلي نه بلکې شرعي دي، يعنې ښه څه دي؟ بد څه دي؟ دا مونږه په عقل سره نشو ټاکلے، د ښو او بدو معيار شريعت دے، چاته چې الله پاک او د هغه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښه اوفرمائي، هغه ښه دے، چاته چې الله او د هغه رسول بد اووائي هغه يقيناً بد دے-

نن سبا دلته د ښو او بدو معيار بدل شوے دے ❁ انسان څومره ګټي؟ ❁ څه کار کوي؟ ❁ د هغه نسب څنګه دے؟ ❁ څومره سبق ئې وئيلے دے؟ ❁ انګلش څنګه وائي؟ ❁ څنګه ګاډے ورسره دے؟ وغيره په داسې قِسمه څيزونو سره د انسان ښه او بد پيژندلے شي- حالانکه د ښو او بدو معيار دا څيزونه نه بلکې د ښو او بدو معيار د انسان کردار دے، زه ښه يم که بد يم، د دې فيصله به الله پاک او د هغه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوي، دې د پاره به ماته خپل ځان ته د شريعت په آئينه کښې کتل وي، د قرآن او حديث په رڼا کښې به د خپل کردار، خپل ګفتار، خپلو کړو وړو او اخلاقو جائزه اخستل وي-

په مونږ کښې څوک ښه دے؟ څوک بهتر دے؟ د کائنات د ټولو نه بهترين، د ټولو نه د اوچتې مرتبې والا، د ټولو نه افضل او اعلیٰ يعنې زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم چې د الله پاک هم محبوب دے، د هغوئي د نبوت په نظر کښې څوک

د ټولو نه بهتر دے؟ راځئ! په دې باره کښې يو څو مبارک حديثونه اورو، د دې حديثونو په رڼا کښې مونږ ته د خپل ځان جاج اخستل دي، که چرې مونږه د دې فرامينِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مطابق بهترين مسلمانان يو نو په دې باندې د الله پاک شُکر ادا کول دي او خدائے دې نه کړي که چرې داسې نه وي، مونږه بهترين نه يو نو مونږ ته د دې حديثونو خپلولو سره د بهترين جوړيدو کوشش کول دي- راځئ! مبارک حديثونه اورو:

## (1): په نورو ډوډۍ خوړل، د سلام جواب ورکول

سرکارِ نامدار، د مديني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خِيَارُكُمْ مَنْ اَطْعَمَ الطَّعَامَ وَ رَدَّ السَّلَامَ يعنې په تاسو ټولو کښې بهتر هغه دے کوم چې ډوډۍ اوخوروي او د سلام جواب ورکړي-[1]

د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه: چې کوم مسلمان په خلقو باندې ډوډۍ خوري او د سلام جواب ورکوي، هغه د ټولو نه بهتر دے- اوس دې په مونږ کښې هر يو غور اوکړي چې آيا زه په خلقو باندې ډوډۍ خورم؟ آيا زه د سلام جواب ورکووم؟ که چرې د دننه نه ضمير په آؤ کښې جواب درکړي نو د الله پاک شُکر ادا کړئ! او که چرې په نا کښې جواب راشي نو د نن نه د دې 2 کارونو خپلولو نيت اوکړئ! (1): په نورو ډوډۍ خوړل دي (2): د سلام جواب ورکول دي-

## په نورو ډوډۍ خوړل د جنتيانو والا عمل دے

الله پاک د سُورۂ دَهر په 8 نمبر آيت کښې د جنتيانو په صفتونو کښې يو صفت دا هم بيان کړو:

---

[1]... مسند امام احمد ، جلد:9 ، صفحه:702 ، حديث:24652۔

| | |
|---|---|
| وَ يُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّ يَتِيْمًا وَّ اَسِيْرًا (پاره:29، سورۀ دهر:8) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: او ډوډۍ خوروي د هغه په محبت کښې په مسکینانو او یتیمانانو او قیدیانو- |

صدرُ الافاضِل حضرت علّامه مولانا سیِّد محمد نعیم الدِّین مُراد آبادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې آیت لاندې لیکي: یعنې په داسې حالت کښې چې کله هغوئي ته پخپله د ډوډۍ حاجت او خواهش وي او بعضې مفسیرینو د دې دا معنې اخستې ده چې د الله پاک په مینه کښې ډوډۍ خوروي- (1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه: د خپلې واه واه د پاره نه، خلقو ته د ښودلو د پاره، په اخبارونو، پوسټرو باندې د تصویرونو لګولو او په سوشل میډیا باندې د وائرل کیدو د پاره نه بلکې کوم بنده چې صرف او صرف د الله پاک په محبت، د هغه د رضا حاصلولو د پاره په نورو ډوډۍ خوري، د جنّت والوؤ صفت خپلولو والا دے-

## جنتي بالاخانه

حضورِ پاک، صاحب لولاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: په جنت کښې یوه داسې بالاخانه ده د کومې بهر چې د دننه نه او دننه د بهر نه ښکاري، دا بالاخانه الله پاک د هغه چا د پاره جوړه کړې ده کوم چې (په محتاجو باندې) ډوډۍ خوري- (2)

## د جنَّت زیرے

حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنۡه اوفرمائیل: وړومبۍ خبره کومه چې ما د رسولِ اکرم

[1] ... تفسیر خزاین العرفان، پاره:29 ، سورۀ دهر، زیرِ آیت:8 ، صفحه:1073-

[2] ... مسند امام احمد، جلد:9 ، صفحه:389 ، حدیث:23553-

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه واوریدله نو هغه دا وه: اے خلقو! سلام عام کړئ، (په محتاجو باندې) ډوډۍ خورئ او د شپې چې کله خلق اوده وي نو لمونځ ادا کوئ، په سلامتیا سره به جنت ته لاړ شئ۔ (1)

## په نورو د ډوډۍ خوړلو ثواب په ګناهونو باندې غالب شو

اے عاشقانِ رَسُول! ❀ په وَړو باندې ډوډۍ خوړل ❀ په تَږو باندې اوبه څښل ❀ د غریبانانو پکار راتلل ❀ ډیر د ثواب کار دے، په **شُعَبُ الاِیمان** کښې دي: په تیرو اُمتونو کښې یو عبادت کوونکے وو، هغه تر 60 کالو پورې د اللّٰه پاک عبادت اوکړو، بیا یوه زنانه د هغه خوا له راغله نو هغه د هغې خوا ته ښکته راکوز شو او 6 شپې ئې د هغې سره تیرې کړې، کله چې هغه په خپل دې عمل باندې پښیمانه شو نو هغه په منډه جُمات ته راغلے۔ هلته هغه اولیدل چې 3 وَږو ګسانو په جُمات کښې پناه اخستې ده، نو هغه یوه ډوډۍ نیمه کړه او نیمه ئې ښي اړخ والا او نیمه ئې کڼ اړخ والا له ورکړه۔ د دې نه پس اللّٰه پاک ملکُ المَوت عَلَیْہِ السَّلام را اولیږو کوم چې د هغه عبادت ګزار نه روح قبض کړو۔ کله چې د تَلې په یو چابړې کښې د هغه د 60 کالو عبادت کیښودے شو او په دویم چابړې کښې د 6 ورځو ګناه کیښودے شوه نو هغه ګناه په عبادت باندې غالبه [درَنه] شوه خو چې کله پکښې ډوډۍ کیښودے شوه نو هغه په دغه ګناهونو باندې غالبه [درَنه] شوه۔ (2)

ہم نے مانا کہ گناہوں کی نہیں حد لیکن | تو ہے اُن کا تو حسن تیری ہے جنت تیری

[1]... ترمذی، کتاب صفة القیامة و الرقائق و الورع ، صفحه:589 ، حدیث:2485۔

[2]... شُعَبُ الْاِیمان، جلد:3 ، صفحه:262، حدیث:3488۔

## د سلام د جواب مدني ګلونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! په نورو باندې د ډوډۍ خوړلو په شان د سلام جواب ورکول هم د بهترين انسان نخښه ده- افسوس! نن سبا په دې معامله کښې د ډيرې سستۍ او بے پرواهۍ نه کار اخستے کيږي، اول خو اوس سلام کله کوي؟ ❁ هيلو (Hello) ❁ هائے (Hi) ❁ ګډ مارننګ (Good Morning) وغيره وائي، حالانکه دا اسلامي سلام نه دے، اسلامي سلام اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه وئيل دي- کله چې هم د چا سره ملاقات کوئ نو اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه وائيئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ثواب به مو کيږي-

## خوږ آقا ﷺ اسلامي سلام اوښودلو

صحابئ رسول حضرت ابو راشِد عبد الرحمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زه ماشوم ووم، يو ځل د آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شوم نو ما اووئيل اَنْعِمْ صَبَاحاً (دا عربي ده، د دې به په انګلش کښې ترجمه جوړيږي: **Good Morning**) يعنې سحر مو بخير- رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دا د مسلمانانو سلام نه دے، کله چې ته د چا خوا له ځې نو وايه: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ-[(1)]

## د سلام جواب ورکول واجب دي

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! دا دے اسلامي سلام--!! کله چې هم د چا سره ملاقات کيږي نو داسې سلام کول پکار دي او کله چې څوک سلام اوکړي نو هغه له

---

[1]... الکنٰی و الاسما ء، جلد:1 ، صفحه:56، حديث:217 ملتقطاً-

جواب هم خامخا ورکوئ او ياد ساتئ! د سلام جواب فوراً او په دومره آواز کښې ورکول واجب دي چې سلام کولو والا ئې واوري-

د سلام د نورو سُنَّتو او آدابو نه د ځان خبرولو د پاره د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه کتاب 550 سُنَّت اور آداب اولولئ!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): بهترين کَس هغه دے کوم چې قرآن زده کړي او نورو ته ئې اوښائي

سرکارِ مدينه، سلطانِ باقرينه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خَيۡرُكُمۡ مَنۡ تَعَلَّمَ الۡقُرۡاٰنَ وَعَلَّمَهٗ يعني په تاسو کښې بهترين کَس هغه دے ځوک چې پخپله قرآن زده کړي او نورو ته ئې اوښائي-(1)

سُبۡحٰنَ الله! دا دے بهترين انسان کوم چې قرآن زده کوي هم، نورو ته ئې هم ښائي- اوس دې په مونږ کښې هر يو کَس غور اوکړي ❁ آيا ما قرآنِ کريم د صحيح تجويد سره، د صحيح مخارج سره، په عربئ لهجه کښې لوستل زده کړي دي؟ ❁ په قرآنِ کريم کښې الله پاک مونږ ته څه حکمونه کړي دي؟ ❁ د کومو کارونو نه ئې د بچ کيدو حکم کړے دے؟ ❁ آيا ما دا هر څه زده کړي دي؟ ❁ که چرې زده کړې مې دي يا د زده کولو په کوشش کښې يم نو آيا دا زده کړي، نورو ته هم ښائم؟ که چرې ضمير په

---

[1]... بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خيركم من تعلم القرآن وعلمہ، صفحہ:1299، حديث:5027۔

آؤ کښې جواب درکړي نو د الله پاک شکر ادا کړئ! که چرې جواب په نا کښې راشي نو هم د نن نه د قرآنِ کريم په زده کولو او نورو ته په ښودلو لاس پورې کړئ!

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د لاندې د قرآنِ پاک د تعليماتو عام کولو د پاره د زرګونو مدارِسُ المدينه بالغان ترکيب کيږي- په کومو کښې چې د زيات عمر اسلامي وروڼه د صحيح مخارج سره د حرفونو د صحيح ادائيګئ سره قرآنِ کريم زده کوي او دعاګانې يادوي، لمونځونه وغيره صحيح کوي او د سُنتّتو تعليم مفت حاصلوي- تاسو هم په دې مدارسُ المدينه (بالغان) کښې د لوستلو يا نورو ته د ښودلو نيت اوکړئ او د دنيا او د آخرت بے شميره خيرونه اوګټئ-

## څوک چې زده کولے شي هغه دې خامخا زده کړي

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي: بے شکه دا قرآنِ کريم د الله پاک د طرف نه ضيافت دے ځکه چې څوک د دې نه د څه زده کولو توان لري هغه له پکار دي چې دا زده کړي ځکه چې د خير نه د ټولو زيات خالي کور هغه دے په کوم کښې چې د الله د کتاب نه څه هم نه وي او په کوم کور کښې چې د الله د کتاب نه څه نه وي د هغه وران کور په شان دے د کوم د آبادولو چې څوک نه وي، بے شکه شيطان د هغه کور نه تختي په کوم کښې چې د سورۀ بقره تلاوت اوري- [1]

## فرښتې اِستِغفَار کوي

تابعي بزرګ حضرت خالد بن مَعدَان رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه فرمائي: د قرآن لوستونکي او د ده د زده

[1]... مصنف عبد الرزاق ، باب تعليم القران و فضله، جلد:3 ، صفحه:225، حديث:6018۔

کوونکي د پاره د سورت د ختميدو پورې فرښتې اِستِغفَار کوي دې د پاره چې کله په تاسو کښې څوک سورت لولي نو د ده دوه آيتونه دې پريږدي او د ورځې په آخرۍ حصه کښې دې هغه ختموي د پاره د دې چې د ورځې د شروع نه تر آخره پورې د لوستونکي [بَل ته د] ښودونکي د پاره فرښتي اِستِغفَار اوکړي-[1]

## په خلقو کښې د ټولو نه ښه څوک دے؟

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ځل په منبرِ اقدس باندې تشريف فرما وو يو صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! په خلقو کښې د ټولو نه ښه څوک دے؟ اوئې فرمائيل: په خلقو کښې هغه کَس د ټولو نه ښه دے څوک چې د قرآنِ کريم ډير زيات تلاوت کوي-[2]

## دا خوشبوياني څنګه دي؟

حضرت امام ابنِ ابي الدُّنيا رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د حضرت مُغِيره بن حَبيب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه روايت کړل چې د يو قبر نه به خوشبوياني راتللې- چا د قبر دغه صاحب په خوب کښې اوليدو او د هغه نه ئې پوښتنه اوکړه: دا خوشبوياني څنګه دي؟ جواب ئې ورکړو: **د قرآن د تلاوت او د روژې**-[3]

## (3): په تاسو ټولو کښې بهتر هغه دي کوم چې پاک زړه رښتوني ژبې والا دي

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په خلقو کښې بهترين هغه دي کوم

[1]... دارمی، کتاب فضائل القرآن، باب فضل من قرا القرآن، صفحہ:1013 ، حديث:3319 ۔

[2]... مسند امام احمد، جلد:11 ، صفحہ:290 ، حديث:28196۔

[3]... موسوعۃ الامام ابن ابی الدنيا، جلد:1 ، صفحہ:305 ملتقطاً ۔

چې د **قَلبِ مَحمُوم** او د رښتوني ژبې مالکان دي، چې کله د **قَلبِ مَحمُوم** په باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو سرکارِ نامدار، د مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د دې نه مُراد هغه زړه دے کوم چې د سرکشۍ، حسد او نورو ګناهونو نه پاک وي، عرض اوکړے شو: داسې زړه د چا کيدے شي؟ رحمتِ کونين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کوم ګس چې د دنيا نه نفرت او د آخرت سره محبت کوي، بيا عرض اوکړے شو: داسې ګس څوک کيدے شي؟ اوئې فرمائيل: **هغه مومن کوم چې د ښه اخلاقو مالک وي-** (1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې ښه اخلاق د ډيرو سعادتونو چابي ده لکه څنګه چې په دې حديثِ پاک کښې بيان کړے شو چې ښه اخلاق چرته د ډيرو غټو ګناهونو نه د پاک پاتې کيدو سبب دے هلته ښه اخلاق د دنيا نه د نفرت او د آخرت سره د محبت ذريعه هم ده- الله پاک دې مونږ ته رښتوني ژبه او د قَلبِ مَحمُوم په شان نعمت عطا کړي او په خپلو بهترينو بنده ګانو کښې مو دې شامل کړي-

## ناپاکه زړه الله پاک ته د نزدې کيدو جوګه نه دے

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: د هر څيز ګند مختلف وي- د زړه ګند دا څيزونه دي په کومو چې زړه خيرنيږي، بيا لکه څنګه چې ناپاکه بدن دې جُمات ته د راتلو جوګه نه دے هم داسې ناپاکه زړه د الله پاک جُمات ته د نزدې کيدو جوګه نه دے، الله پاک فرمائي:

---

[1]... شُعَبُ الْاِيْمان ، باب فى حفظ اللسان، جلد:4 ، صفحه:205 ، حديث :4800 ملتقطًا-

| | |
|---|---|
| اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿۸۹﴾<br>(پاره:19 ، سورۂ شعراء:89) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: خو هغه کوم چې د الله په حُضُور کښې د سلامت زړه سره حاضر شو- |

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ❁ د حلالې ګټې سره په عبادتونو کښې مزه ❁ په زړه کښې بيداري ❁ په سترګو کښې نمي ❁ او په دُعا کښې قبليدل پيدا کيږي- کوم بنده چې مقبولُ الدُّعا جوړيدل غواړي هغه دې اَکلِ حلال او صِدقِ مَقال يعني حلال خوراک او رښتوني ژبه اوساتي، حلاله ګټه هغه کومه چې د حلالو ذريعو نه راشي- (1)

## بهترين کَس هغه دے د چا چې اخلاق ښه دي

حضرت عبد الله بن عَمرو بن عاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې د مديني سرکار، د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرمائيل: اِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ اَحْسَنَكُمْ اَخْلَاقاً يعني په تاسو کښې بهترين کَس هغه دے د چا چې اخلاق ښه دي- (2)

## د بهترينو اخلاقو والا څوک؟

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيانوي چې د دواړو جهانونو مالک او مختار، مکي مدني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: آيا زه تا ته د دنيا او آخرت د ټولو نه د بهترينو اخلاقو والا په باره کښې اونه وايم؟ څوک چې ستا سره تعلق

[1]... مرأة المناجيح، جلد:7 ، صفحہ:95۔

[2]... بخاری، کتاب المنا قب، باب صفة النبی، صفحہ:907، حديث:3559۔

پرېږدي تۀ د هغه سره تعلق [قائم] ساته او څوک چې تا محرومه کړي هغه ته عطا کړه او څوک چې په تا ظلم اوکړي هغه معاف کړه- (1)

## عمرونه زياتيدل او ښه اخلاق د بهترئ نخښې دي

سرکارِ نامدار، د مديني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا زه په تاسو کښې د بهترينو خبر در نه کړم؟ صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: ولې نه! اوئې فرمائيل: **په تاسو کښې بهتر هغه دي د کومو عمرونه چې زيات او اخلاق ښه وي-** (2)

## د زيات عمر او په رزق کښې د فراختيا مدني نُسخه

د نُور پيکر، د ټولو نبيانو سرور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې په خپل رزق کښې فراختيا او په عمر کښې زياتوالے خوښوي هغه له پکار دي چې د خپلو خپلوانو سره تعلق قائم اوساتي- (3)

الله پاک دې مونږ ته د نيکو نه ډک ژوند عطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## (4): بهتر کَس هغه دے کوم چې د الله پاک په لور رابلي

د مديني د سرکار، د زړونو د قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: خِيَارُ اُمَّتِيْ مَنْ دَعَا اِلَى اللهِ تَعَالٰى وَحَبَّبَ عِبَادَهٗ اِلَيْهِ يعنې زما په اُمَّت کښې بهتر هغه کَس دے کوم

---

[1]... معجم اوسط، جلد:4 ، صفحه:160 ، حديث:5567۔

[2]... مسند امام احمد ، جلد:4 ، صفحه:26 ، حديث:7413۔

[3]... مسلم، کتاب البر و الصلة، با ب صلة الرحم ، صفحه:993 ، حديث:2557۔

چې د اللہ پاک په لور رابلي او خلق د اللہ پاک محبوب جوړ کړي-[1]

## (5): په تاسو کښې بهتر هغه دے کوم چې په لمونځ کښې نرمې اوکړې والا وي

د رسول اللہ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: خِيَارُكُمْ اَلْيَنُكُمْ مَنَاكِبَ فِي الصَّلَاةِ يعنې په تاسو کښې بهتر هغه دے کوم چې په لمونځ کښې نرمې اوکړې والا وي-[2]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديث لاندې فرمائي: که چرې يو کَس د ضرورت په طور يو لمونځ کوونکے وړاندې وروستو کوي نو بغير د څه لم ليټ نه دې ور اخوا شي يا که چرې څوک هغه په لمونځ کښې نيغوي نو نيغ شي او که چرې څوک د صف د فاصلې بندولو د پاره په مينځ کښې راځي او اودريدل غواړي نو دا ئې اودريدو ته پريږدي، بعضې شارِحينو اوفرمائيل چې د اوکړې د نرمولو نه عاجزي او انکساري مُراد ده خو مخکښينۍ معنې قوي ده-[3]

## خپل صفونه نيغ ساتئ

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خپل صفونه نيغ کړئ چې صفونه نيغول د لمونځ قائمولو نه دي-[4]

---

[1]…جامع صغير ، صفحہ:243 ، حديث:3979۔

[2]… ابو داؤد ، کتاب الصلاة ، باب تسوية الصفوف ، صفحہ:118 ، حديث:672۔

[3]… مرأة المناجيح، جلد:2 ، صفحہ:187۔

[4]… بخاری، کتاب الاذان، باب اثم من لم يتم الصفوف، صفحہ:239 ، حديث:723۔

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: ربِّ کریم چې څه اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ (پاره :1، سورۂ بقرة:3) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: لمونځ قائم کړي۔ |

یا اوئې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ (پاره :1، سورۂ بقرة:3) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: او لمونځ قائم کړئ۔ |

د دې نه مُراد دے لمونځ صحیح ادا کول او د لمونځ په صحیح ادا کولو کښې صف نیغول هم داخِل دي چې د دې نه بغیر لمونځ ناقص وي۔ (1)

## شیطان په صفونو کښې ننوځي

نبئِ پاک، صاحبِ لولاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: خپل صفونه نیغ ساتئ، په دې کښې نزدې والے کوئ، خپلې غاړې مخامخ ساتئ، په هغه مې دې قسم وي د چا په قبضه کښې چې زما ځان دے زه شیطان د صفونو په فاصله کښې د چیلئ د بچې په شان ننوتونکے وینم۔ (2)

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: معني دا شوه چې د لمونځ صفونه نیغ هم ساتئ او په دې کښې یو ځائے اودریږئ چې په خپل مینځ کښې مو اوګې د یو بَل سره میلاؤ وي۔

[1] ... مرأة المناجیح، جلد:2 ، صفحہ:183۔

[2] ... ابو داؤد، کتاب الصلاة، باب تسویة الصفوف، صفحہ:117 ، حدیث:667۔

صفونه يو بَل ته نزدې ساتئ داسې چې د 2 صفونو په مينځ کښې بَل صف جوړ نه شي يعنې صرف د سجدې فاصله ساتئ، په جنازه کښې سجده نشته ځکه هلته په صفونو کښې د دې نه هم کمه فاصله پکار ده-

## صفونو ته ننوتونکے شيطان

مفتي صاحب رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د حديثِ پاک په دې حصه کښې **شيطان د صفونو په فاصله کښې د چيلئ د بچې په شان ننوتونکے وينم** د لاندې فرمائي: خِنزَب شيطان کوم چې په لمونځ کښې وسوسه اچوي هغه د صف په فاصله کښې د چيلئ د بچې په شکل کښې ننوځي او لمونځ کوونکو ته [په زړونو کښې] وسوسې اچوي- د دې نه 3 مسئلې معلومې شوې: **يوه** دا چې شيطان مختلف شکلونه اختيارولے شي، اوګورئ د دې شيطان خپل شکل خو بدل دے خو هغه وخت د چيلئ شکل جوړ کړي- **دويم** دا چې الله پاک حضورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له هغه طاقت ورکړے دے چې د کائنات خالق ته د متوجه کيدو سره هم په مخلوق باندې نظر ساتي- **دريم** دا چې د شيطان په شان غيبي مخلوق د هغوئي نه پټ نه دے نو انسانان د هغوئي نه څنګه پټيدے شي! (1)

## (6): بهتر هغوئي دي کومو له چې زر غصه نه ورځي او زر ئې سړيږي

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

اَلَا وَاِنَّ مِنۡهُمُ الۡبَطِيۡءَ الۡغَضَبِ سَرِيۡعَ الۡفَيۡءِ، وَ مِنۡهُمۡ سَرِيۡعَ الۡغَضَبِ سَرِيۡعَ الۡفَيۡءِ، فَتِلۡكَ بِتِلۡكَ، اَلَا وَاِنَّ مِنۡهُمۡ سَرِيۡعَ الۡغَضَبِ بَطِيۡءَ الۡفَيۡءِ اَلَا وَ خَيۡرُهُمۡ بَطِيۡءُ الۡغَضَبِ سَرِيۡعُ الۡفَيۡءِ اَلَا وَ شَرُّهُمۡ سَرِيۡعُ الۡغَضَبِ بَطِيۡءُ الۡفَيۡءِ

---

[1]... مرأة المناجيح، جلد:2، صفحه:185-

يعنې او خبر اوسئ چې (په خلقو کښې) بعضې هغه دي کومو له چې زر غصه نه ورځي او زر ئې سړيږي او بعضو له زر غصه ورځي او زر ئې سړيږي نو د هغه بدله ده، واورئ! په هغوئي کښې بعضو له زر غصه ورځي او ډير وخت پس سړيږي، واورئ! په دوئي کښې بهتر هغه دي کومو له چې زر غصه نه ورځي او زر سړه شي او بد هغه دي کومو له چې زر غصه ورشي او زر سړه نه شي- (1)

## د شيطان بال

حضرت وَهب بن مُنَبِّه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: يو راهِب به په خپله عبادت خانه کښې په عبادت کښې مصروف وو- شيطان د هغه د بې لارې کولو اراده اوکړه خو ناکامه شو، بيا هغه راهِب ته د عبادت خانې د دروازې برسيره کولو د پاره اووئيل خو راهِب بيا هم خاموش پاتې شو نو شيطان هغه ته اووئيل: که چرې زه لاړم نو تهٔ به ډير افسوس کوې- راهِب بيا هم خاموش پاتې شو، تر دې پورې چې شيطان اووئيل: زه مسيح (يعنې حضرت عيسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام ) يم- راهب هغه له جواب ورکړو: که چرې تاسو مسيح (عَلَيۡهِ السَّلَام ) ئې نو آيا تاسو مونږ ته په عبادت کښې د کوشش کولو حکم نه دے کړے؟ او آيا تاسو زمونږ سره د قيامت لوظ نه دے کړے؟ نن که چرې تاسو مونږ ته يو بَل څيز راوړے دے نو مونږه ستاسو خبره څنګه اومنو؟ نو آخِر شيطان هم پخپله اووئيل: زه شيطان يم او ستا د بې لارې کولو د پاره راغلے ووم خو اومې نه کړل- د دې نه پس شيطان راهِب ته اووئيل: ته چې د کوم څيز په باره کښې اوغواړې زما نه پوښتنه کولے شې- نو راهِب اووئيل: زه ستا نه هيڅ پوښتنه کول نه غواړم- کله چې شيطان مخ واړولو او روان شو نو

---

[1]... ترمذی ، کتاب الفتن ، باب ما اخبر النبی ...الخ، صفحہ:528، حدیث:2191۔

راهِب هغه ته اووئيل: آيا ته اورې؟ هغه اووئيل: آؤ! ولې نه- نو راهِب د هغه نه پوښتنه اوکړه: ما ته د بنيادم د هغه عادتونو په باره کښې اووايه کوم چې د هغه خلاف ستا مرسته کوي؟ شيطان اووئيل: هغه غصه ده، کله چې انسان په غصه کښې وي نو زه هغه داسې اُلټا پلټا کړم لکه څنګه چې ماشوم د بال سره لوبې کوي- (1)

## په غصه کښې ئې ګاډے مات کړو

په غصه کښې په کور کښې د وړو څيزونو ماتوونکو په باره کښې خو به تاسو اوريدلي وي خو د چين ملک يو ګس د خپل لکونو روپو د ګاډي د بيا بيا خرابيدو په وجه دومره تنګ شو چې هغه هم پخپله خپل قيمتي ګاډے تباه کړو- دا ګس د خپل 7 **لاکهه ډالره قيمت لرونکي** ګاډي نه هغه وخت بے زاره شو کله چې په هغه کښې راغلې خرابۍ د مکينک د بيا بيا کوششونو باوجود هم لرې نه شوه نو هغه جذباتي ګس د خپلې غصه ويستو د پاره ځانګړې طريقه خپله کړه او د ځلمو يوې ډلې ته ئې څټکونه او لرګي ورکړل او خپل قيمتي ګاډے ئې د خپلو سترګو د وړاندې ټوټې ټوټې کړو- (2)

## د غصې ويستلو کلب

په دې دُنيا کښې د کم عقلو کمے نشته، د دې اندازه د دې خبرې نه اولګوئ چې د يو خبر مطابق په نيويارک امريکه کښې يو داسې د تباهئ کلب جوړ کړے شوے دے د کوم د غړي جوړيدو سره چې تاسو ګران او قيمتي څيزونه ماتولے شئ او خپله غصه په شاهانه انداز کښې ويستلے شئ- د دې ځانګړي سروس لاندې تاسو د خپلو ګرانو

---

[1]... الزواجر ، الكبيرة الثالثة :الغضب بالباطل و الحقد و الحسد، جلد:1، صفحه:94 -95۔

[2]... جنګ آن لائن يکم جنوری2013ء۔

ګاډو، په قیمتي لوښو او فرنیچر نه واخله تر د جدید ټیکنالوجۍ په څیزونو لکه په لیپ ټاپ او کمپیوټر باندې هم خپله غصه ویستلے شئ- صرف دا نه بلکې تاسو په کومه وسله دا ماتول غواړئ، د دې هم خاص انتظام شوے دے او دلته تاسو ته د تبرګي نه واخله تر څټکه پورې څیزونه درکړے کیدے شي- بس تاسو ته څه ماتول دي او په څه ماتول دي؟ د دې د پاره پکار رقم ورکړئ او خپله غصه د دې په تباه کولو اوباسئ- (1)

## د غصې په وخت دُعا

د مسلمانانو خوږې مور جانې حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا له چې به کله غصه ورغله نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به حضرت عائشې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا ته فرمائیل: داسې وایه: اَللّٰهُمَّ رَبَّ مُحَمَّدٍ، اِغْفِرْلِی ذَنْبِی، وَاَذْهِبْ غَيْظَ قَلْبِی، وَاَجِرْنِی مِنْ مُضِلَّاتِ الْفِتَنِ اے الله پاکه! اے د مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رَبَّه! زما ګناهونه معاف کړه او زما د زړه غصه ختمه کړه او ما د بے لارې کوونکو ظاهري او باطني فتنو نه محفوظ کړه- (2)

## د غصې د عادت ختمولو 2 وظیفې

(1): په ګرځیدو کښې کله نا کله یَا اَللّٰهُ، یَارَحْمٰنُ، یَا رَحِیْمُ وائیئ (2): په ګرځیدو کښې یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْن وائیئ-

(د غصې په باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د مکتبة المدینه د رسالې "غصے کا علاج" لوستل ډیر ګټه ور کار دے-)

---

1... جنګ آن لائن 4 جنوری2013ء-

2... عمل الیوم واللیلة لابن السنی، باب ما یقول اذا غضب، صفحه:203 ، حدیث:456 ملتقطاً-

## (7): بهترين ګَس هغه دے کوم چې قرض په ښه طريقې سره ادا کړي

سرکارِ عالي وقار، د مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِنَّ خِيَارَالنَّاسِ اَحْسَنُهُمْ قَضَاءً بهترين ګَس هغه دے کوم چې قرض په ښه طريقه ادا کړي- (1)

## د زړه په خوشحالئ سره قرض ادا کړئ

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: د دې نه يو څو مسئلې معلومې شوې **يو** دا چې که چرې قرضدارے بغير د شرط لګولو د قرض نه څه زيات ورکړي مثلاً د کوټې سِکې په ځائے د صحيح روپئ په ذريعه واپسي زياته کړي يا شميره (مثلاً: د 30 روپو په بدل کښې 40 روپئ واپس کړي) [نو] دا سود نه دے- سود هغه دے کوم چې قولاً يا عادتاً مشروط وي- (مفتي صاحب نور ليکي:) **دويم** دا چې (قرضدارے) دې قرض ورکوونکي ته د زړه په خوشحالئ سره قرض ادا کړي- (2)

## قرض په ښه نيت سره اخلئ

سرکارِ عالي وقار، د مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې د خلقو مال قرض واخلي د کوم د ادا کولو چې پخه اراده اوساتي نو الله پاک ئې د هغه نه ادا کړي او څوک چې د دې د بربادولو اراده اوکړي نو الله پاک په هغه باندې بربادي غورځوي- (3)

---

[1] ... مسلم، کتاب المساقاۃ، باب من استسلف شيئا...الخ، صفحہ:622 ، حديث:1600۔

[2] ... مرأة المناجيح ، جلد:4 ، صفحہ:294 ۔

[3] ... بخاری، کتاب فی الاستقراض... الخ، باب من اخذ اموال الناس... الخ، صفحہ:615 ، حديث:2387۔

# د نیک انسان قرض ادا کیږي

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: یعنې د چا نیت چې د قرض اخستو په وخت د ادا کولو نه وي، د مخکښې نه ئې د مال وهلو اراده وي، داسې انسان بے ضرورته هم قرض اخلي او په ناجائزه طور باندې هم- غرض دا چې دا حدیث په ډېرو هدایتونو باندې مشتمل دے او د تجربې نه ثابته ده چې د نیک انسان قرض ادا کیږي که هغه ئې په ژوند کښې پخپله ادا کړي یا پس د مرګه ئې د هغه وارثان ادا کړي لکه څنګه چې حضرت ابو بکر صدیق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د حضور انور، د مدینې د تاجور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وفات نه پس د حضور قرض ادا کړو، زِره ئې راخلاصه کړه، که چرې دا هم نه وي نو د قیامت په ورځ به د قرضدارې قرض په هغه قرض ورکوونکي باندې معاف کړي یا به ورله د قرضدارې د قرض په بدله کښې د جنت نعمتونه ورکړي، بهر حال حدیث واضحه دے- په دې باندې دا اعتراض نشته چې په حضور انور، د مدینې په تاجور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې قرض ولې پاتې شوے وو، رَبِّ کریم ولې ادا نه کړو ځکه چې د حضرت صدیق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ادا کول هم د رَبِّ کریم د طرف نه وو-(1)

# د قرض واپس کولو خوندوره واقعه

د مدینې سلطان، رحمتِ عالمیان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د بني اسرائیل یو ګَس د بَل یو ګَس نه 1000 دیناره د قرض په طور اوغوښتل- هغه اووئیل: تهٔ څوک ګواه راوله او راشه د پاره د دې چې هغه په دې قرض باندې ګواه جوړ شي- قرض غوښتونکي اووئیل د الله

---

[1]... مراٰة المناجیح ، جلد:4 ، صفحہ:297۔

ګواه کیدل کافي دي- بَل ګَس اووئیل: بیا تهٔ څوک کفیل راوله او راشه، هغه جواب ورکړو: د الله پاک کفیل کیدل ډیر دي- په دې باندې بَل ګَس اووئیل تهٔ رښتیا وائې، بیا هغه د یو ټاکلے شوي وخت په وعده باندې هغه له زر دیناره قرض ورکړو- قرض اخستونکي ګَس د خپل کار لړ د دریاب په سفر لاړے او خپل کار ئې پوره کړو- د دې نه پس هغه د کشتۍ په لټولو لاس پورې کړو د پاره د دې چې د وعدې مطابق په وخت باندې قرض ادا کړے شي خو هیڅ کشتۍ ورته میلاؤ نه شوه- بیا هغه یو لرګے ډَډ کړو او د هغه دننه ئې زر دیناره او د قرض ورکوونکي په نوم یوه چیټهۍ کیښوده او بیا ئې په څه څیز باندې د لرګي خُله بنده کړه- بیا هغه هُغه لرګے راواخستو او دریاب ته راغلے او دا دعا ئې اوکړه: اے الله پاکه! تا ته ښه پته ده چې ما د فلانکي ګَس نه زر دیناره قرض اخستے وو- هغه زما نه د کفیل غوښتنه اوکړه نو ما اووئیل: چې د الله پاک کفیل کیدل کافي دي، هغه ستا په کفالت باندې رضا شو او هغه زما نه د ګواه راوستو غوښتنه اوکړه نو ما اووئیل: د الله پاک ګواه کیدل کافي دي نو هغه ستا په ګواهۍ باندې رضا شو- ما د کشتۍ لټولو پوره کوشش اوکړو د پاره د دې چې هغه ته خپل رقم اولیږم خو ما په دې قدرت اونه لرلو او اوس زه د پیسو والا دا لرګے ستا په اَمان کښې درکووم- بیا هغه ګَس هغه لرګے دریاب ته اوغورځولو- هغه ګَس د هغه ځائے نه واپس راغلے او په دې موده کښې ئې د کشتۍ لټون شروع کړو د پاره د دې چې خپل ښار ته واپس لاړ شي- بَل خوا قرض ورکوونکے هم د دریاب خوا له راغلے چې کیدے شي څه کشتۍ په نظر راشي کومه چې د ده مال راوړي- په دې کښې ده د دریاب په غاړه باندې هغه لرګے اولیدو په کوم کښې چې زر دیناره موجود وو- هغه د خَشاک په طور د استعمالولو د پاره لرګے اوچت کړو، چې کله ئې هغه وَچولو نو په ده کښې زر دیناره او د پیغام والا چیټهۍ میلاؤ شوه- څو ورځې پس قرضدارے ګَس راغلے او زره دیناره ئې راوړل او اوئې وئیل:

په الله مې دې قسم وي! ما پرله پسې کشتۍ لټوله د پاره د دې چې ستا رقم په وخت باندې را اورسووم خو د دې نه وړاندې ما ته کشتۍ میلاؤ نه شوه- قرض ورکوونکي د هغه نه پوښتنه اوکړه: آیا تا زما په لور څه څیز رالیږلے وو؟ قرضداري جواب ورکړو: زه چې په کومه کشتۍ کښې راغلے یم د دې نه مخکښې ما ته کشتۍ میلاؤ نه شوه په کومه کښې چې واپس راغلے وے- قرض ورکوونکي اووئیل: بے شکه الله پاک ستا هغه رقم ما ته رارسولے دے کوم چې تا په لرګي کښې ایښودے وو او ما ته دې رالیږلے وو، نو هم دا رنګه هغه ګس زر دیناره واخستل او په خوشحالئ واپس لاړے-(1)

## (8): بهترین هغه دے کوم چې د خپلې ښځې او بچو د پاره بهترین وي

د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: خَیْرُکُمْ خَیْرُکُمْ لِاَهْلِهٖ وَاَنَا خَیْرُکُمْ لِاَهْلِیْ یعني په تاسو کښې بهترین هغه دے کوم چې د خپل کور والوؤ د پاره بهترین وي او زه د خپل کور والوؤ د پاره ستاسو د ټولو نه ښه یم-(2)

## یو مؤمِن دې خپله ښځه خپله دښمنه نه ګڼي

د رسولِ نذیر، سِراجِ مُنیر، محبوبِ رِبِّ قدیر صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک مؤمِن دې خپله مؤمنه ښځه دښمنه نه ګڼي که چرې د هغې د څه عادت نه خفه وي نو د بَل یو عادت نه به رضا شي-(3)

---

[1]... بخاری، کتاب الکفالۃ، باب الکفالۃ فی القرض ...الخ، صفحہ:589، حدیث:2291۔

[2]... ترمذی، ابواب المناقب عن رسول اللہ ، باب فضل ازواج النبی، صفحہ:875، حدیث:3898۔

[3]... مسلم، کتاب الرضاع، باب الوصیۃ بالنساء، صفحہ:556 ، حدیث:1469۔

## بے عیبه ښځه موندل ناممکنه خبره ده

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: سُبۡحٰنَ الله! څومره نفیس تعلیم دے، مقصد دا دے چې بے عیبه ښځه میلاؤیدل ناممکنه خبره ده، ځکه که چرې په ښځه کښې یو دوه بدئ هم وي نو هغه برداشت کوئ چې څو خوبیانې به هم بیامومئ- دلته (صاحب د) مِرقات اوفرمائیل چې کوم کَس د بے عیبه ملګرې په لټون کښې وي هغه به په دنیا کښې یواځې پاتې شي، په مونږ کښې پخپله په زرګونو خامئ دي، د هر دوست عزیز بدئ معاف کوئ، په ښو باندې ئې نظر ساتئ، آؤ د اصلاح کوشش ئې کوئ، بے عیبه خو رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے-[1]

## (9): بهترین انسان هغه دے د چا د شر نه چې خلق بچ پاتې شي

رسولِ نذیر، سِراجِ مُنیر، محبوبِ رَبِّ قدیر صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: خِيَارُكُمْ مَنْ يُّؤْمَنُ شَرُّهٗ، وَيُرْجٰى خَيْرُه یعنې په تاسو ټولو کښې بهترین انسان هغه دے د کوم د شر نه چې محفوظ پاتې شې او د هغه نه د خیر طمع اوساتلے شي-[2]

حضرت علّامه عبد الرؤُوف مناوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حدیثِ پاک په شرح کښې فرمائي: کوم کَس چې د خیر کارونه کوي تر دې پورې چې په خلقو کښې په دې بابله پیژندلے کیږي د هغه کَس نه د خیر طمع ساتلے شي، د چا خیرونه چې زیات وي نو زړونه د هغه د شر نه محفوظ وي، چې کله د انسان په زړه کښې ایمان مضبوط وي نو د هغه نه د

[1]... مرأة المناجیح ، جلد:5 ، صفحہ:87۔

[2]... شُعَبُ الْاِیمان، جلد:7 ، صفحہ:539، حدیث:11267۔

خير طمع ساتلے شي او خلق د هغه د بدو نه محفوظ وي، كله چې ايمان كمزورے وي نو خير كميږي او بدي غالبه شي-[1]

## د چا د شر نه چې خلق بچ پاتې شي هغه به جنّت ته ځي

رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې پاک خوراک اوخوړو او د سنت مطابق ئې عمل اوکړو او خلق د هغه د شر نه بچ پاتې شو هغه به جنت ته ځي- يو ګس عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! نن ستاسو په اُمَّت کښې داسې خلق ډير دي- نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ډير زر به زما نه يو څو سوه كاله پس هم وي-[2]

## ناكامه ګس

د حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے چې د مدينې سركار، د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: هغه ګس به فلاح نه بيامومي د چا عزّت چې خلق صرف د هغه د شر د ويرې نه كوي-[3]

## (10): د بهترينو خلقو نخښانې

د رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے:

خِيَارُ اُمَّتِي فِيمَا اَنْبَأَنِي الْمَلَاُ الْاَعْلٰى لَقَوْمٌ يَضْحَكُونَ جَهْرًا فِي سَعَةِ رَحْمَةِ رَبِّهِمْ وَيَبْكُونَ سِرًّا مِنْ خَوْفِ شِدَّةِ عَذَابِ رَبِّهِمْ وَيَذْكُرُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ

يعنې فرښتو چې ما ته څه اووئيل د هغې مطابق زما په اُمَّت کښې بهترين خلق هغه دي

---

[1]... فيض القدير، جلد:3 ، صفحه :666 ، تحت الحديث:4113۔

[2]... ترمذی، ابواب صفة القيامة، صفحه:595 ، حديث:2520۔

[3]... مسند اسحاق بن راہويہ، جلد:2 ، صفحه:88۔

کوم چې د الله پاک د رحمت فراختيا ويني او خوشحاليږي، د الله پاک د ويرې د سخت والي په وجه باندې په پټه ژاړي او سحر او ماښام د الله پاک ذِکر کوي-[1]

## د الله پاک نه ويره او طمع څنګه پکار ده؟

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خپل شهزاده ته اوفرمائيل: اے زما ځويه! د الله پاک نه داسې ويرېږه چې ستا په خيال کښې که چرې ته د ټولې زمکې والوؤ نيکئ هم هغه له يوسې نو هغه ستا نه دا قبولې نه کړي او د الله پاک نه طمع داسې لره چې ته ګڼه چې که چرې ته د ټولې زمکې والوؤ ګناهونه هم هغه له يوسې نو هغه به تا اوبخښي-[2]

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ طمع او ويره

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې که چرې آواز اوکړے شي چې د يو کَس نه علاوه ټول خلق دوزخ ته لاړ شئ نو زما طمع ده چې هغه (يعنې د دوزخ نه بچ کيدونکے) انسان به زه يم او که چرې آواز اوکړے شي چې د يو انسان نه سيوا ټول خلق جنت ته لاړ شئ نو زه ويرېږم چې هسې نه چې هغه (يعنې جنت ته نه تلونکے) يو کَس زه نه يم-[3]

## د الله پاک بارګاه ته د رسيدو 2 خاصيتونه

د حضرت قتاده رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ نه روايت دے چې حضرت مُطَرِّف بن عبد الله رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ اوفرمائيل: چې مونږ به اکثر د حضرت زيد بن صوحان رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ خوا له تللو هغوئي به

---

[1]... شُعَبُ الْاِيمان، جلد:1 ، صفحه:478 ، حديث :765-

[2]... احياء علوم الدين، کتاب الخوف والرجاء ، بيان ان الافضل ...الخ، جلد:4 ، صفحه:201-

[3]... احياء علوم الدين، کتاب الخوف والرجاء ، بيان ان الافضل هو ...الخ، جلد:4 ، صفحه:201-

فرمائیل: اے د الله پاک بنده ګانو! (د یو بَل) عزت کوئ او ښه سلوک کوئ ځکه چې د الله پاک دربار ته د رسیدو ذریعه دوه خاصیتونه یعنې ویره او طمع ده- (1)

## د مچۍ د سر برابر د اوښکې اهمیت

سرکارِ عالي وقار، د مدینې تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د کوم مؤمِن د سترګو نه چې د الله پاک د ویرې نه اوښکې بهیږي که هغه د مچۍ د سر برابر ولې نه وي، بیا هغه اوښکې د هغه د مخ ظاهري حصې ته اورسي نو الله پاک هغه په دوزخ باندې حرام کړي- (2)

## د اللّٰه د ویرې په سبب به بیمار په نظر راتللو

نقل دي چې خلقو به دا ګڼل چې حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام بیمار دے او د هغه تپوس له به راتلل حالانکه د هغوئي دا حالت به د الله پاک د ویرې نه وو- (3)

الله پاک دې زمونږه هم د الله پاک د ویرې نعمت نصیب کړي- کاش! چې مونږه هم د معاشرې په بهترین انسان جوړیدو کښې کامیاب شو-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: د سحر لمونځ د پاره راپاڅول

اے عاشقانِ رسول! د نیک لمونځ ګزاره جوړیدو، د الله پاک د ویرې موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اسلامي لمن اونیسئ، او په 12 دیني کارونو کښې هم

---

[1]... حِلْیَةُ الْاَوْلِیاء، جلد:2 ، صفحہ:233 ، رقم : 2047۔

[2]... شُعَبُ الْاِیمان، جلد:1 ، صفحہ:491 ، حدیث:802۔

[3]... منہاج القاصدین، کتاب الرجاء و الخوف، ذکر خوف الانبیا علیہم السلام، صفحہ:316۔

پوره برخه واخلئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د دنیا او آخرت بې شمیره برکتونه به مو نصیب شي- په 12 دیني کارونو کښې یو کار دے : **د سحر د لمونځ د پاره راپاڅول،** (یعنې مسلمانان د سحر د لمونځ د پاره راپاڅول)-

مسلمانان د سحر د لمونځ د پاره راپاڅول د مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، تاسو هم د دې سُنَّت خپلولو نیت اوکړئ! راځئ! د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورو:

## د مدینې د حاضرئ سعادت نصیب شو

د پنجاب د اِلٰه آباد علاقې (ضلع قصور) د اوسیدونکي یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! ما د دعوتِ اسلامي د دیني ماحول سره تعلق لرلو خو د دیني کارونو لړ کښې د سستئ ښکار ووم، یوه ورځ یو ذمه وار اسلامي ورور زه پوهه کړم او د دیني کار کولو او خاص طور د **سحر د لمونځ د پاره ئې د مسلمانانو د راپاڅولو** د دیني کار د پوره پابندئ سره د کولو ترغیب راکړو، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! زما ذهن جوړ شو او ما هم په بله ورځ په دې باندې عمل شروع کړو- د سحر د لمونځ د پاره به مې مسلمانان راپاڅول، د الله پاک او د هغه د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم اوشو، بخت مې داسې رابیدار شو چې په دې کال ما ته د مدینې د حاضرئ سعادت نصیب شو، په دې باندې د پاڅه بَل کرم دا اوشو چې زما د مشر ورور هم د حج سعادت نصیب شو-

عطائے حبیبِ خُدا مدنی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا مدنی ماحول
سنور جائے گی آخرت اِنۡ شَآءَ اللّٰه! | تم اپنائے رکھو سدا مدنی ماحول

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حج او عمرې موبائل ایپلي کیشن پيژندګلو

اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجۍ (***Latest Technology***) په ذريعه هم د عِلمِ دين عام کولو کوشش کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، په دې کښې يو ايپلي کيشن : ***hajj & umrah*** (حج او عمره) هم دے-

د دې ايپلي کيشن په مرسته تاسو د حج او عمرې د لنډې طريقې ❀ د حج او عمرې د ضروري مسئلو وغيره نه ځان خبرولے شئ ❀ د دې نه علاوه په دې موبائل ايپلي کيشن کښې د حج او عمرې دعاګانې ❀ د حرمين شريفين مُقَدَّسو ځيونو معلومات وغيره هم شامل دي ❀ د دې موبائل ايپلي کيشن يو ډير اهم خاصيت دا دے چې په دې کښې د تهري ډِي ويډيوز (***3D Videos***) په ذريعه د حج او عمرې عملي طريقه هم ښودلے شوې ده- دا موبائل ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انستال کړئ، د دې نه پخپله هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىْ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو

هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## دعا کول د مصطفٰے سُنَّت دي

**د مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ دعا د مؤمِن وَسله ده- (2)

**اے عاشقانِ رَسُول!** دعا کول د **مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **سُنَّت** دي ❁ زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ډيرې دعاګانې کولې ❁ بعضې مُحَدِّثينو د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو دعاګانو په باره کښې پوره پوره کتابونه هم ليکلي دي، مثلاً د ډوډئ خوړلو دعا، د اوبو څکلو دعا، د اوده کيدو دعا، د خوب نه د راپاڅيدو سره د لوستلو دعا، د پئيو [شودو] څکلو دعا، د جامو اغوستو دعا- غرض زمونږه خوږ آقا، د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د امروزه کارونو نه مخکښې هم دعاګانې لوستلې ❁ هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به دا دعا ډيره زياته کوله: (3)

رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾

(پاره:2، سورهٔ بقره:201)

ترجمهٔ كنزُ الايمان: اے رَبّه زمونږه! مونږ له په دنيا کښې هم خير راکړې او مونږ له په آخِرت کښې هم خير راکړې-

---

[1] ... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

[2] ... مسند ابى يعلى، جلد:2، صفحه:123، حديث:1812-

[3] ... بخارى، كتاب:الدعوات، صفحه:1574، حديث:6389-

د امروزه دعاګانو زده کولو د پاره **مدني پنج سُوره**، صفحه 182 نه 227 پورې اولولئ، د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبۃ المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔ الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنئ شپه كښې) دا دُرُود شریف په پابندئ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر كښې د داخلیدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴾3﴿د رَحمت اويا دروازې:

څوک چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴾4﴿د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوک ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1... القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷
2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹
3... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

ئي هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئي هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئي چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترہيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

3... تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث:۴۴١۵